Welcome Afghans



# کور ته ښه راغلاست - وینیپیګ، مانیټوبا




نفوس: **۸۳۴,۶۷۸ خلک** (۲۰۲۱ سرشمېرنه)
(ګڼ شمېر د سویلي او لویدیځې آسیا خلک، عربان او افغانان په کې شامل دي)

## د دې سیمې په اړه

د وینیپیګ ښار د مانیټوبا ولایت پلازمېنه ده. وینیپیګ د هرچا لپاره د ښه راغلاست، خوندي او سالمې ټولنې د رامنځته کولو له مخې د خپلو اوسیدونکو لپاره پراخه برنامې او خدمات وړاندې کوي.

مانیټوبا[1]

- په کاناډا کې له ساسکچوان، اونټاریو، او نوناوت، او د متحده ایالاتو شمالي ډاکوټا او ماینیسوټا ایالتونو سره ګډه پوله لري
- د اندازې وړ فرانسوي- خبرې کوونکې نفوس لري، او د دغې ولایت اصلي ژبه انګلیسي ده

وینیپیګ معتدلې چینې، ګرم اوړی، رنګین خزانونه، او له واورو ډک ژمی لري. ژمي یې سوړ او واورین وي چې د جنورۍ په میاشت کې یې ورځنۍ د تودوخې منځنۍ ټیټه درجه د سانتي ګراد په کچه -۱۹ °درجې وي. اوړي یې ګرم وي چې د جولای په میاشت کې یې په منځني ډول د تودوخې درجه 27° درجې د سانتي ګراد په کچه وي.

[1] دلته ورکړل شوي ټول لېنکونه یواځې په انګلیسي ژبه دي.



له پورته څخه د "فورکس سيمي" ننداره، د وینیپیګ ښار مرکز او هغه سيمه چېرته چې سور سيند او اسينيبوين سيند سره يوځای کيږي.

## د وینیپیګ خلکو او ځمکې په اړه

د دي ځاي خلک په کاناډا کې له اروپايي ميشتو او هغو خلکو له رسيدو څخه مخکي دلته اوسيږي چې دغه ځمکه يې د لومړي ځل لپاره کشف کړې وه. وینیپیګ د ترون په يوه سيمه کې موقعيت لري، د انشينابي (اوجيبوی)، انينو (کري) او ډاکوټا ايالت د خلکو کور او دوديزې ځمکې، او په کې د سره سيند ميتيس اړوند اصلي سيمي هم شاملي دي.



خلک يې په ژمي کې د يخ شوي سيند دپاسه د يخ او هاکي لوبې کوي.

# ورځنی ژوند، دنده او ښوونځي ته تلل

وینیپیګ په دنده کې د پرمختګ، سوداګرۍ کولو، زده کړو او بشپړ ورځني ژوندانه لپاره غوره ځای ګڼل کيږي.

تاسو کولی شئ په بېلابېلو صنعتونو او کارخانو لکه کې دندې پیداکړئ

- معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژي
- روغتیا
- ښوونه او روزنه
- فضأ نوردي
- پرمختللي تولیدات
- کرنيز کاروبار

په مانیتوبا کې لږ تر لږه رسمي تنخواه په یو ساعت کې ۱۴٫۱۵ ډالره ده.

د کور کرایې پکې توپیر کوي. د یوې کورنۍ لپاره یې د کور اخبستلو منځنۍ قیمت نږدې ۵۹۵٫۰۰۰ ډالره دی. د ۲ کوټو لرونکې اپارتمان په میاشت کې نږدې ۱٫۳۵۰ ډالره کرایه درلودلی شي.

د د مانیتوبا له ځایي دولت څخه د کور کرایې کونکو او کرایې ورکونکو د حقوقو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

دلته ګڼ شمېر ښوونځي، د ورځنۍ پاملرنې خدمات، او له ښوونځي وروسته پروګرامونه په انګلیسي او فرانسوي دواړو ژبو کې شتون لري. په کاناډا کې، زده کوونکي زیاتره له وړکتون (له ۳ یا ۴ کلنۍ) څخه تر ۱۲م ټولګي (تر ۱۷ یا ۱۸ کلنۍ) پورې ښوونځي ته ځي. له هغې وروسته، دوی کولی شي کالج یا پوهنتون ته ولاړ شي یا هم دنده پیل کړي.

مانیتوبا د لوړو زده کړو اته دولتي مؤسسې یا پوهنتونونه لري، چې د هغو له جملې یې اووه ځانګې په وینیپیګ کې دي

- د سینټ بونیفیس پوهنتون
- د وینیپیګ پوهنتون
- 
- براڼډن پوهنتون
- د مانیتوبا پوهنتون

دلته ګڼ شمېر کالجونه هم شته چیرې چې تاسو کولی شئ، د وینیپیګ په ګډون په مانیتوبا کې زده کړه وکړئ

- د اسینیبوین پولي کالج
- مانیتوبا د سوداګرۍ او معلوماتي تکنالوژۍ انستیتیوت
- د ریډ ریور کالج پولي تخنیک

تاسو کولی شئ دلته ګڼ شمېر سپورتونه هم وکړئ، لکه

- باسکیټبال
- ګولي فوټبال (فوټبال)
- لامبو وهنه
- هاکي
- کرکټ
- کاناډايي فوټبال

د وینیپیګ په ۶۳ ټولنیزو مرکزونو کې د تفریح په اړه نور معلومات له وینیپیګ ښار او د YMCA - څخه شته فعالیتونه د وینیپیګ له YWCA څخه ترلاسه کړئ.

دغه سیمه خپل د خوښیو ډک ژوندانه هنرونو او کلتور او منظرو له امله شهرت لري

- تیاتر یا سینما
- بالي ګډا مرکزونه
- د ځانګړو ګډاګانو جشنونه
- 
- مجلسونه
- مراسم
- جشنونه
- موزیمونه

تاسو کولی شئ له عامه پارکونو، شګلن ساحلونو، او د چکر له ځایونو څخه په اوړي کې، او د ساتیرۍ له فعالیتونو لکه د واورې له غرنيزې لوبې، د واورې له عادي لوبې، او د یخ لوبې څخه په ژمي کې خوند واخلئ.

## دیني او کلتوري اتحادیې

د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور لاندې، تاسو کولی شئ په کاناډا کې د خپلې خوښې دین پلی کړئ. تاسو ته د خدماتو چمتو کوونکې اداره کولی شي له تاسو سره په مانیټوبا کې د سیمه ییزو کلتوري اتحادیو سره په اړیکه نیولو کې مرسته وکړي.

## ځانګړي خواړه

په دې سیمه کې د خوراکي توکو ګڼ شمېر پلورنځي نړیوال خوراکي توکي پلوري. ډیری لوی سوپر مارکیټونه او د مینځني ختیځ اړوند ګڼ شمېر پرچون پلورنځي حلاله غوښه هم پکې پلوري. ستاسو د خدماتو چمتو کوونکې اداره کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو خپلې سیمې ته نږدې پلورنځی پیداکړئ.

## د نویو راغلو اشخاصو لپاره ګټور معلومات

په دې سیمه کې له تاسو سره د مرستې لپاره نورې سرچینې

- کاناډا ته ښه راغلاست: د نوي راغلو اشخاصو لپاره د خېرونو لړۍ
- خپلې سیمې ته نږدې د نوي راغلو اشخاصو اړوند نوي خدمتونه پیداکړئ
- کډوالي او په کاناډا کې ځای پرځای کېدل
- په وینیپیګ کې د نویو راغلو لپاره ملاتړ او خدمات
- د وینیپیګ ښار
- په مانیټوبا کې توکمیز کلتوري اداري
- کاناډا ته د نویو راغلو اشخاصو لپاره د ځایي خلکو اړوند د پوهاوي وسیلې